Afghanistan Chamber of Commerce & Industries
اتاق تجـــارت و صنایـــع افغانستـــان
د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق

# مطبوعاتي خبرپاڼه

## د TIR ملي کانفرانس په کابل کې ترسره شو

پته: د کابل سټار هوټل تالار، افغانستان
وخت او نېټه: چهار شنبه د ۱۳۹۲ کال د غویي د میاشتې ۲۰ مه، سهار ۹:۰۰بجې

د تیر (TIR) ملي کنفرانس د افغانستان د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت، د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق او USAID-ATAR ادارو له خوا د حکومت لوړ پوړیو چارواکو، د مرستندویه ټولنو، د افغانستان د ټرانسپورټ او سوداګرۍ استازیو په ګډون ترسره کړ.

د دولت، خصوصي سکټور او د مرستندویه ټولنو استازي د «نړیوال جادهیي ټرانسپورټ» یا TIR په ملي کانفرانس کې د ګډون په موخه په کابل سټار هوټل کې چې د اسیا په زړه کې افغانستان په ټرانزیټي مرکز د بدلېدونکي هېواد په توګه د افغان دولت موخې ته د رسېدو په برخه کې د خپل ډول لومړنی کانفرانس دی سره راغونډ شوي دي. یاد کنفرانس د امریکا نړیوالې پراختیایي ادارې (USAID) لهخوا افغانستان د سوداګرۍ او عوایدو (اتار) پروژې په مالي مرسته د ټرانسپورټ او ملکي هوايي چلند وزارت او افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق لهخوا تنظیم شویدی.

د افغانستان ولسمشر جلالتمآب اشرف غني هم د هېواد ټرانزیټي پوټنشیل د ملي لومړیتوب په توګه منلي دي. د ټرانسپورټ او ملکي هوايي چلند وزارت، افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق او افغانستان د ګمرکونو لوی ریاست استازیو پر هغو هڅو رڼا واچوله، چې د سوداګرۍ او عوایدو د پراخېدو په موخه د هېواد په ټرانزیټي پوټانشیل اغېز لري. د یادونې وړ ده، چې د کنفرانس په ترڅ کې د موټر چلوونکو لپاره د تیر (TIR) لارښود کتاب هم په پښتو او دري ژبو وړاندې شو.

د افغانستان د ټرانسپورټ او ملکي هوايي چلند وزیر ډاکټر محمدالله بتاش وویل، چې "په افغانستان کې د تیر/TIR کنوانسیون فعالول او پلي کول له ملي لومړیتوبونو څخه دي، چې د ټرانزیټ او سوداګرۍ د ګړندیتوب د اسانتیا په برابرولو کې مرسته کوي،" او زیاته یې کړه، چې "د تیر کارنېټ په کارولو سره مالونه نور د پېچلیو ګمرکي کړنلارو څخه نه تېرېږي او نه هم په پولو کې ځنډول کېږي".

«تیر» هغه یوازینی نړیوال ټرانزیټي سیستم دی، چې له مخې یې لارۍچلوونکي کولای شي د پولو په اوږدو کې په لږ ځنډ سره د مالونو لېږد رالېږد ترسره او د ګمرکي کارکوونکو لهپاره ډېر وخت او پیسې وسپموي. افغانستان په ۱۳۵۴ (۱۹۷۵ز) کال کې د «تیر» کنوانسیون غړیتوب ترلاسه کړ، خو د څو لسیزو شخړو وروسته دغه هېواد یوازې وکولای شول، چې په ۱۳۹۲ (۲۰۱۳ز) کال کې د «تیر» غړیتوب بیا فعال کړي او اوسمهال د «تیر» د کړنلارو د پلي کولو په حال کې دی.



Afghanistan Chamber of Commerce & Industries | Cell: 0786384859| E-mail: pr.director@acci.org.af | Website: www.acci.org.af

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونې سوداګریز مرستیال، ښاغلي الحاج محمد یونس مومند وویل چې "ټرانزیټ د اوږدې مودې را په دېخوا د بېلابېلو ټولنو ترمنځ یو ګډ دود بلل کېږي، د تېر سیستم او تیر کارنېټ په کارولو سره به افغان ټرانزیټي لارۍ د ګمرکونو د لږ ټرانزیټي ځنډ او کمو ټرانزیټي لګښتونو او خنډونو ترڅنګ د ساده شویو او معیاري کنټرولي تدابیرو سره مخ شي چې دا کار په خپله د نړیوالې سوداګرۍ د پراختیا د هڅونې سبب کېږي."



Afghanistan Chamber of Commerce & Industries | Cell: 0786384859| E-mail: pr.director@acci.org.af | Website: www.acci.org.af